محمد اياز نوري

۲۰/۰۸/۲۰۰۹

## ټولټاکنې او که يوه رسوايي؟؟؟

نن د ۱۳۸۸ هجري لمريز کال د زمري د مياشتي ۲۹ نيټه مصادفه وه زمونږ د ټپي هيواد افغانستان د ملت لپاره له توهينه ډکه ورځ...!! په داسي حال کي چي ګران افغانستان د امريکايي او انګريزي چورګرو له خوا نيول شوی، او افغان ولس نه کوم اختيار لري، وسله واله جګړه په پوره ضرب په کي روانه ده، خوهلته په هيواد کي د نوي ولسمشر د ټاکلو لپاره د بهرنيانو د پيسو په مصرف؟؟ يو شمير افغانانو، چي قومي بازار يي ښه تود کړی وه، خپلي رايي صندوقونو ته ورواچولي...؟! نن سهار له اوو بجو څخه د دي موجوده حکومت پر ضد افغان وسله والو طالبانو جګړه پيل کړه او تر څو يي چي وس لاره، دا لړۍ د انتخاباتو يي ګډه وده او تخريب کړه.
نن مابنام بيا د حکومت مشر حامد کرزي په پرس کي ګډون وکړ او وي ويل:
دا د وياړ او افتخار ورځ ده، چي نن د افغانستان ملت د ولسمشرۍ انتخابات تر سره کړل.هغه د خپل دولت مخالفين، وسله وال طالبان، د دښمن په نوم ياد کړل، او وي ويل، چي نن هغوی ۷۳!! جلا، جلا حملي زمونږ په دفاعی واحدو تر سرې کړلي، خو افغانان د رايو مرکزونو ته ولاړل. ورپسي د حکومت د دفاع وزير رحيم وردګ، د کورنيو چارو وزير حنيف اتمر او د ملی امنيت رئيس امرالله صالح هم کنفرانس ته حاضر شول. دفاع وزير معترف شو، چي نن په ۱۵ ولايتونو يعنی نيمايي هيواد کي جګړه روانه وه، او مونږ د دولت د مخالفينو سره په جګړه کي، ۸ پوځيان مړه او ۲۵ کسه ټپيان ورکړل. ملکي تلفات هم په کندهار او خوست کي لرو. د کورنيو چارو وزير د پوليسو ۷ مړه او ۱۷ تنو ټپيانو خبر ورکړ.
ښه، دا خو هغه ارقام د تلفاتو دي، چي دولتي مقامات يي پس له خپل مصلحت افغان ملت او ميډيا ته څرګندوي، دا چي رښتيا کوم شمير دئ، دا يو الله پاک پوهيږي. مخالفيو وسله والو طالبانو به هم مرګ او ژوبله ليدلي وي.
دلته بايد هر افغان د دي شيطاني توطئي عمق ته پام وکړي. نن په دواړو متاخصمو خواوو کي د افغان ملت بچيان مړه او زخميان شول. که ملي پوليس يي بولي او که تروريست !! دواړه د يوه ملت څخه دوه ورونه ول...!! آيا دوی د ژوند حق نه لاره؟ آيا دوی د کوم جنګ لپاره د چا لپاره، او د کوم ملي هدف لپاره؟ او چا دوی نن دي جنګ ته سره مخامخ کړل؟. آيا هغه افغان طالب او د ملي؟ اردو عسکر او پوليس چي نن سا ورکړه ، او هغه بل چي ټپي شو، او اوس په روغتون او يا هم د غره په کومه څنډه کي په کټ کي پروت او بوغاريږ وهي، آخر ولي؟ آيا هغوی مور او پلار، خور او ورور، کور او کورنی نه لرل؟ په هغوی به اس څه حال تيريږي...؟!. او آيا دا دواړه په يوه واحد ملت پوري مربوط نه دي؟ اوس زه پوښتم، چي که په امريکا او يا هم په يوه اروپايي ملک کي د افغانستان غوندي توده وسله واله جګړه روانه وي، دوی به لومړی هرومرو جنګ ته پای ورکوي، او که ټولټاکنې؟؟ به کوي...؟!.
له بلي خوا د ټاکنو شمير لا نه ده شوی، ليکن يو د قدرت ليوني عبدالله عبدالله لا له وخته اعلان وکړ، چي د ولسمشر حامد کرزي، کسانو ووټونه پټ کړي دي!! بالمقابل د هغه بل د ارګ د ليوني حامد کرزي پلويانو هم وويل، چي مونږ هم د عبدالله د ګروپ د درغليو په اړه يو لست لرو!!.

اوس به دا غوړ ملت د دې داړه مارو سره څه کوي؟؟. آخر د دې هیواد راتلوونکې به څنګه کیږي؟. ټولټاکنې په طبعي او قانوني ډول په یوه هیواد کې ثبات او سوکالي راولي، لیکن په افغانستان کې باید ناورین راوړي...؟!. پس دلته ده، چې نوره هر افغان باید په دې حقیقت اقرار وکړي، چې لویه نړیواله ابلیسي توطعه د دې تور بخته ملت په برخه لیک باندې روانه ده، چې د لاربنوونې زنځیر او مسؤولیت یې د امریکایي او انګریزي متجاوزینو په لاس کې دئ، او وضع به نوره هم د بدترئ خوا ته ځي، داسې نه چې دا بی ګناه ولس د اوسني حال په ارمان شي.، چې خدایا مه یې کړه...